د افغانانو د ځای پر ځای کولو او مرستې پروګرام

# ۲۰۲۲ کال د مالیاتو د راپور ورکولو اړوند پوښتنې

**وروستی سمون: مارچ ,[●] 2023**

یادونه: د هر وګړي او کورنۍ ځانګړي حالاتو ته په پام سره، دا لارښود ممکن په ټولو حالاتو کې د پلي کیدو وړ نه وي او نه هم نوموړی لارښود قطعي دی. پر بشردوستانه ویزو راغلو ټولو افغانانو ته لارښوونه کیږي چې د خپلو مالیاتو د راپور د ترتیب کولو پر مهال د یو باور وړ او متخصص مالیاتي مشاور سره مشور وکړي. سربېره پر دې، د امریکا متحده ایالاتو ته نوي راغلي ټول وګړي باید د [مالیاتي درغلیو](#) څخه خبر وي.

**۱ . آیا پر بشردوستانه ویزو راغلي افغانان د ۲۰۲۱ کال راهیسي د کرونا د تشویقي تادیاتو دوترلاسه کولو وړ دي؟**

*عمومي اړتیاوې*

دا چې IRS ټول تشویقي تادیات ( د اقتصادي اغیز د تادیاتو په نوم هم پېژندل کیږي) له وړاندې ورکړي، څکه خو پر بشردوستانه ویزو راغلي افغانان د تېر وخت لپاره د نوموړو تادیاتو لپاره پر شرایطو برابر نه دي. د نوموړو تادیاتو د تر لاسه کولو لپاره یوازینۍ لاره دا ده چې د ۲۰۲۵ کال د اپریل تر ۱۸ مې نیټې وړاندې خپل د ۲۰۲۱ کال د مالیاتو راپور ورکړي، که چېرته کومې کورنۍ یا وګړي چې عمر یې له ۱۸ کالو پورته وي دا کار نه وي کړی، او د پور د تخفیف د ورکړې ادعا کوي کوم چې د تر لاسه کولو لپاره یې یو مالیه ورکوونکی باید لاندې شرایط پوره کړي:

- امریکایي تبعه او یا د امریکا اوسیدونکی بهرنی وګړی وي ( د هغه د ښځې یا مېړه سره که چېرته د مالیاتو مشترک راپور ورکوي); او
  - د بل مالیه ورکوونکي پورې تړاو و نه لري
  - تنظیم شوی ناخالص عاید یې:
  - له 150,000 څخه زیات نه وي که چېرته واده کړی وي او یا هم پر شرایطو برابر کونډ یا کونډې په توګه د خپلو مالیاتو راپور ورکوي.
  - له 112,500 څخه زیات نه وي که چېرته د کورنۍ د مشر په توګه د مالیاتو راپور ورکوي؛ او یا
- د مالیاتو د نورو حالاتو او راپور ورکولو لپاره له 75,000 څخه زیات نه وي
  - د ټولنیز تامین با اعتباره شمېره Social Security Number ولري، د مالیه ورکولو انفرادي تشخیصیه نمبر یا ITIN په دې کې نه حسابیږي.

د دې لپاره چې د پور د تخفیف لپاره وړ و اوسي، هغوی باید د ۲۰۲۱ کال لپاره د بهرنیو میشتو وګړو شرایط پوره کړي. په یاد لرئ چې بهرنی میشت وګړی د مالیاتو لپاره جدا او د کډوالۍ یا مهاجرت لپاره جدا معنا لري. د میشت وګړي لپاره باید یو تن یا [ګرین کارډ](#) ولري او یا هم د [موجودیت پاشتون په اساسي ازموینه](#) کې بریالی شي. هغه افغانان چې د ۲۰۲۱ کال په دوهمه نیمايي کې د بشردوستانه ویزو له لارې امریکا ته راغلي، هغوی د ۲۰۲۱ کال د میشتو وګړو پر شرایطو برابر نه دي ( هغوی ممکن د ۲۰۲۲ کال لپاره پر نوموړو شرایطو برابر شي که چېرته هغوی د ۲۰۲۱ کال د جنوري له لومړۍ نیټې څخه د نوموړي کال د ډیسمبر تر ۳۱ مې نیټې پورې په امریکا کې پاتې شوي وي) تر څو چې هغوی د لومړی کال د ټاکنو انتخاب و نه کړي کوم چې لاندې تشریح شوی دی. له دې پرته، د ۲۰۲۱ کال لپاره به هغوی ټول یا "غیر میشت بهرني وګړي" یا "[دوه حالته بهرني وګړي](#)" ګڼل کیږي، په دې مانا چې لږ تر لږه باید یو 1040-NR راپور ورکړي. د IRS د 519 ګڼې خپرونې له مخې، پر بشردوستانه ویزې راغلي افغانان نشي کولای د ۲۰۲۲ کال لپاره پر پور تخفیف تر لاسه کړي څکه دا تخفیف له ۲۰۲۱ کال وروسته شتون نه لري.

پر بشردوستانه ویزې راغلی هغه افغان چې غواړي د ۲۰۲۱ مالیاتي کال لپاره د لومړی کال له انتخاب ګټه واخلي او ګرین کارډ نه لري او نه هم د موجودیت یا شتون پر شرایطو پوره وي باید لږ تر لږه ۳۱ پرله پسي ورځې د امریکا په متحده ایالاتو کې پاتې شوی وي.

سربیره پر دی، د بشردوستانه ویزې لرونکی افغان په عمومي ډول باید (i) د ۲۰۲۱ کال د نومړو ۳۱ ورځو ۷۵ سلنه وخت د امریکا په متحده ایالاتو کې تیر کړی وي او (ii) د ۲۰۲۲ کال د موجودیت یا شتون شرایط پوره کړي. د موجودیت د ازمایښت پر شرایطو د پوره کیدو لپاره د بشردوستانه ویزې لرونکی یو افغان باید لږ تر لږه باید ۱۸۳ ورځې د امریکا په متحده ایالاتو کې پاتې شوی وي، په دې کې ټولې هغه ورځې باید شاملې شي چې په امریکا کې پاتې شوی وي. د ۲۰۲۲ مالیاتي کال لپاره 1/3 ورځې په وروستي مالیاتي کال کې ( په دې حالت کې ۲۰۲۱ کال) او 1/6 ورځې د وروستي مالیاتي کال څخه په مخکې مالیاتي کال کې ( په دې حالت کې ۲۰۲۰ کال). وګورئ [د غیر میشتو وګړو لپاره د امریکا د مالیاتو لارښود]

د یو فرضي افغان لپاره چې په ۱۲ آګست ۲۰۲۱ کې امریکا ته رارسېدلی وي، که چېرته هغه له رارسیدو وروسته د امریکا له متحده ایالاتو نه وي وتلی نو د ۳۱ ورځو موجودیت پر شرایطو برابر ګڼل کیږي. اوس هغه اړ دی چې د فزیکي شتون د ازموینې شرایط هم پوره کړي. د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۲ او د نومړي کال د ډیسمبر د۳۱ می نیټې تر مینځ ۱۴۱ ورځې دي، په دې مانا چې نومړی مالیه ورکوونکی په ۲۰۲۱ کال کې د فزیکي موجودیت لاندې 46.53 ورځې لري. دا شمېره په 33% کې د 141 ورځو له ضرب څخه لاس ته راغلې. د فزیکي موجودیت په ټیسټ یا ازموینه کې د روان کال یعني ۲۰۲۲ لپاره د تېر کال یعنې ۲۰۲۱ کال ورځې یوازې 1/3 ارزښت لري، او د نومړي وروستي کال څخه په مخکې کال یعنې ۲۰۲۰ کې تیرې شوې ورځې یوازې 1/6 ارزښت لري. چې د فزیکي موجودیت په اساسي ټیسټ یا ازموینه کې بریالی وي نو یو مالیه ورکوونکی اړ دی چې په مجموعي توګه یې ۱۸۳ ورځې د امریکا په متحده ایالاتو کې پاتې شوی وي. دا په دې مانا چې په پورتنی بیلګه کې لا هم ۱۳۷ ورځې (له اعشاري اختصار وروسته) پاتې دي تر څو نومړی د بشردوستانه ویزې لرونکی فرضي افغان د مالیاتي موخو لپاره یو میشت وګړی وګڼل شي. څکه خو، نومړی افغان ممکن پر شرایطو برابر وي تر څو د لومړي کال د انتخاب مالیاتي قواعدو لاندې راشي.

د هغوی ټاکنې یا انتخاب ته له پام پرته، ټول افغانان باید د مرستې لټه او غوښتنه وکړي. اساساً ورته قواعد ۲۰۲۲ مالیاتي کال ته په پام سره نومړې قواعد د هغو افغانانو لپاره هم د پلي کیدو وړ دي چې په ۲۰۲۲ کال کې په بشردوستانه ویزې د امریکا متحده ایالاتو ته راغلي وي. که په ۲۰۲۲ کال کې رارسیدلي افغانان د لومړي کال د انتخاب لپاره هغه قواعد نه مراعات کوي چې په Publication 519 کې پرې بحث شوی ( او ګرین کارډ هم نه لري او د فزیکي موجودیت پر شرایطو هم نه وي پوره) نو له هغوی سره به په ۲۰۲۲ کال کې د یو غیر میشت وګړي په توګه برخورد وشي. بیا هم، مالیه ورکوونکی کولای شي په دې برخه کې نیمګړتیاوې له مینځه یوسي که چېرته هغوی IRS ته په روښانه او قانع کوونکو دلایلو وښايي چې 1) هغوی په دې اړوند منطقي ګامونه اخیستي چې 2 د مالیاتو د راپور ورکولو له طرزالعمل څخه خبر کړي او 3 هغوی مهم ګامونه اخیستي تر څو د طرزالعمل او کړنلارې سره سم عمل وکړي.

**2. که د بشردوستانه ویزې لرونکی یو افغان په ۲۰۲۲ کال کې امریکې ته رارسیږي پورتني شرایط پوره کوي او غواړي مالیاتي تمدید تر لاسه کړي، څه ډول کولای شي خپل مالیات راپور کړي کله چې نومړي کس اړیني ورځې تیرې کړې وي او یا په ۱۵ اکتوبر ۲۰۲۳ کې د نومړې تمدید د مودې له پای ته رسیدو مخکې د امریکا په متحده ایالاتو کې شتون ولري؟**

که یو څوک په ۲۰۲۲ کې متحده ایالاتو ته راځي او د لومړي کال له انتخاب یا آپشن ګټه اخلي کوم چې پورته تشریح شوی نو نومړی شخص به په ۲۰۲۲ کال کې د دوه ګوني مالیاتي حالت یا Dual Status Tax Resident ګڼل کیږي. په دې مانا چې نومړی وګړی د هغه مودې لپاره چې په متحده ایالاتو کې پاتې شوی د مالیاتو په برخه کې میشت او هغه پاتې وخت یې چې په نومړي کال کې د امریکا د متحده ایالاتو څخه بیرون تېر کړی غیر میشت ګڼل کیږي.

**3. آيا د بشردوستانه ويزې لرونکی افغان، د هغوی په شمول چې نوي امريکا ته رارسيږي په ۲۰۲۲ کال کې د کوچني د مالياتي اعتبار يا Child Tax Credit او يا د ګټل شوي عايد د مالياتي اعتبار Earned Income Tax Credit EITC پر شرايطو برابر دی که نه؟**

يوازې هغه کسان چې د متحده ايالاتو تبعه او يا ميشت بهرنياتباع ګڼل کيږي ( بايد د موجوديت اساسي ټيسټ يا ګرين کارډ ولري) د مالياتو په موخه د EITC پر شرايطو برابر دي مګر که چېرته دوی د لومړي کال د ټاکني استثنايي شرايط پوره کوي او يا پر نورو شرايطو پوره وي لکه د عايد لاس ته راوړل يا د ټولنيز امنيت يا Social Security Number لرل.

هغوی چې د لومړي کال په انتخاب کې نه راځي او نه هم د متحده ايالاتو تبعه او يا هم بيروني ميشت وګړي وي ( په تېر مالياتي کال کې د لومړي کال د ټاکونکو په شمول) د بشردوستانه ويزو لرونکي افغانان په ۲۰۲۲ کال کې داستوګنې د اړينو اسنادو د نه درلودلو له امله د کوچني يا ماشومانو د مالياتي اعتبار او EITC پر شرايطو برابر نه دي.

د Publication 519 پر اساس، نوي راغلي افغانان د دوه ګوني حالت لرونکو ماليه ورکوونکو په ډله کې راځي. که د دوه ګوني مالياتي حالت لرونکی يو افغان د کوچني د مالياتي کريډيټ غوښتنه کوي نو بايد د خپل ۲۰۲۲ کال ( د ټولو تمديد شويو برخو په شمول) د مالياتي راپور له وړاندې کولو له مخه خپل SSN تر لاسه کړي. سربېره پر دې، د هغوی کوچنی بايد د ۵۱۹ ګڼې خپروني له مخې بايد پر شرايطو د برابر کوچني تر تعريف لاندې راشي هغه کوچنی څوک چې:

- د ۲۰۲۲ کال په پای کې له ۱۷ کلونو کم عمر ولري
- ستاسو اولاد وي، ناسکه اولاد وي، هغوی چې په فرزندی مو نيولي وي او يا له يادو شويو کسانو څخه د کوم يو اولاد وي
- د امريکا اوسيدونکی، تبعه او يا بهرنی ميشت وګړی وي
- په ۲۰۲۲ کال کې له نيمايي زيات خپل ځاني تمويل و نه لري
- له تاسو سره د ۲۰۲۲ کال له نيماي زياته موده اوسيدلی وي:
- ستاسو په مالياتي راپور پورې منحصر وي او
- د شته کال لپاره يې له چا سره ګډ او مشترک مالياتي راپور نه وي ليږلی.

**4. پر بشردوستانه ويزې راغلی افغان د خپلو مالياتي مکلفيتونو د تصفيې په برخه کې کومې اړتياوې او مسئوليتونه لري؟**

هرڅوک چې په متحده ايالاتو کې له هرې سرچينې څخه عايد تر لاسه کړي بايد د خپلو مالياتو راپور ورکړي. دلته ممکن د ميشت او غيرميشت وګړو د عايد د محدوديتونو له مخې توپيرونه شتون ولري.
يو ميشت بهرنی وګړي اړ دی چې د خپلو اړوند مالياتو راپور ورکړي که چېرته هغه په تېر مالياتي کال کې له يوې ټاکلې اندازې زيات عايد تر لاسه کړی وي. دا په دې مانا چې هر ميشت بهرنی وګړي د مالياتو د راپور په ورکولو مکلف نه دی. يو ميشت بهرنی وګړی ممکن د لاندې جدول له مخې د مالياتو د راپور ورکولو څخه معاف وي:

| که ستاسو حالت په لاندې ډول وي... | او د ۲۰۲۲ کال په پای کې تاسو* ... | بیا د خپلو مالیاتو راپور ورکړئ که چېرته ستاسو عاید کم تر کمه په لاندې ډول وي... |
|---|---|---|
| مجرد | له ۶۵ کم۶۵ کلن او یا له دې زوړ یاست | $12,950<br>$14,700 |
| واده کړی ګډ مالیاتي راپور ورکوئ*** | له ۶۵ کم (دواړه ښځه او مېړه)<br>۶۵ او یا زیات ( یو تن ښځه یا مېړه)<br>۶۵ او یا زیات ( دواړه ښځه او مېړه) | $25,900<br>$27,300<br>$28,700 |
| واده کړی بېل مالیاتي راپور ورکوئ | هر عمر | $5 |
| د کورنۍ مشر | له ۶۵ کم۶۵ کلن او یا له دې زوړ یاست | $19,400<br>$21,150 |
| پر شرایطو برابر کونډ یا کونډه | له ۶۵ کم۶۵ کلن او یا له دې زوړ یاست | $25,900<br>$27,300 |

*که چېرته تاسو تاسو د ۱۹۵۸ کال د جنورۍ له دوهمې نیټې وړاندې زیږېدلي یاست، نو تاسو به د ۲۰۲۲ کال په پای کې ۶۵ کلن یا له دې زوړ یاست (که ستاسو ښځه یا مېړه په ۲۰۲۲ کال کې مړه شوي وي یا تاسو په ۲۰۲۲ کال کې د کوم مړشوي کس لپاره د مالیاتو راپور جوړوئ نو نو *Pub 501* ته مراجعه وکړئ.

**ناخالص عاید ټول هغه عوایدو ته وایي چې د پیسو، توکو یا اجناسو، جایداد، هغه خدمات چې له مالیاتو معاف نه وي، د هغه عاید په شمول چې د متحده ایالاتو څخه بیرون سرچینو څخه ترلاسه شوی وي او یا ستاسو د خپل کور د خرڅلاو له درکه وي ( تاسو کولای شئ یوه برخه او یا ټول ترې وباسئ). د ټولنیز تامین ګټې په دې کې مه شاملوئ مګر په هغه صورت کې چې *(a)* تاسو واده کړي یاست او ځان ته بېل مالیاتي راپور لیږئ او او یا د ۲۰۲۲ کال په جریان کې د خپلې ښځې یا مېړه سره یوه موده پاتې شوي یاست، یا *(b)* یا ستاسو د ټولنیز تامین تادیات او ګټه جمع ستاسو نور ناخالص عواید او د مالیاتي معافیت څخه تر لاسه شوې نوره ګټه له *$25,000* څخه زیاته وي ( *$32,000*که چېرته مشترک راپور ورکوئ). که چېرته *(a)* او *(b)* د پلي کیدو وړ وي نو د *1040* فورم لارښوونې وګورئ تر څو د ټولنیز تامین د تادیاتو هغه اندازه معلومه کړئ چې تاسو یې باید په خپل ناخالص عاید کې حساب کړئ. په هغه ناخالص عاید کې چې په *8949* فورم او *Schedule D* کې یې راپور ورکول کیږي یوازې ګټه شاملیږي، نه تاوان. له کاروبار څخه لاس ته راغلی ناخالص عاید د بیلګې په ډول هغه مبلغ دی چې د *Schedule C* په اومه کرښه یا *line 7 ;* یا د *Schedule F* په نهمه کرښه کې رسول کیږي. مګر د ناخالص عاید په محاسبه کې هیڅ کسر یا تاوان مه حسابوئ، د هغه تاوان په شمول چې *Schedule C* په اومه کرښه او د *Schedule F* په نهمه کرښه کې شتون ولري.

***که چېرته تاسو د ۲۰۲۲ کال په پای کې د خپلې ښځې یا میره سره نه یاست پاتې شوي (یا په هغه نیټه چې میړه یا ښځه مو وفات شوي وي) او ستاسو ناخالص عاید لږ تر لږه *$5* پنځه ډالر وي نو د خپل عمر په نظر کې نیولو پرته باید د خپلو مالیاتو راپور ورکړئ.

دوه ګونی میشت بهرنی وګړی باید د عاید محدودیت ته له پام پرته د خپلو مالیاتو راپور ورکړي. هغه افغان وګړی چې د دوه ګوني هستوګنې لرونکی شمېرل کېږي ممکن اړ وي چې دواړه 1040-NR او 1040 راپورونه ورکړي. د بېلګې په ډول، که پر بشردوستانه ویزې راغلی افغان د لومړي کال تر انتخاب لاندې راځي، IRS ورته تجویزوي چې د مالیاتو د راپور ورکولو د آخري نیټې د تمدید غوښتنه وکړي. که د نوموړي تمدید غوښتنه وشوه، "مالیه ورکوونکی باید په تمدید شوې موده کې د مالیاتو هغه اندازه چې د هغوی لپاره متوقع وي کوم چې په ۲۰۲۲ کال کې د دوی مالیاتي مکلفیت وي او هغوی د ټول کال لپاره د غیرمیشت وګړي په توګه سنجولی وي. هغوی د مالیاتو د سنجولو لپاره 1040-NR فورم کاروالی شي. مالیات مو په 4868 فورمه کې ثبت کړئ. که چېرته هغوی خپل اړونده مالیات نه تادیه کوي نو هغوی به ټاکلي تاریخ د هر ډول مالیاتو د نه دي له امله اضافه ګټه تادیه کوي او همدارنګه هغوی به په دې برخه کې د تادیاتو د ځنډولو له امله اړوند مالیاتي جرایم تادیه کوي." د IRS 519 مه ګڼه خپرونه، 8مه صفحه. مهرباني وکړئ په یاد لرئ، که چیرته د لومړي کاله ټاکنه انتخاب شوه نو مالیه ورکوونکی یې د IRS له هوکړې پرته خپله ټاکنه بېرته نشي اخیستلای.

> یو غیر میشت بهرنی وګړی اړ دی چې چې پر عوایدو د مالیاتو راپور ورکړي، په ځانګړي ډول د متحده ایالاتو د غیر میشت وګړو پر عایداتو د مالیاتو راپور یا اظهارنامه (1040-NR فورمه)، چې د ټولو هغو عوایدو لپاره ډکېږي چې په متحده ایالاتو کې پرې مالیه وضع شوې وي ( د بېلګې په ډول هغه عاید چې په متحده ایالاتو کې لاس ته راغلی وي) مګر هغه وخت دا مالیه نه ورکول کېږي کله چې کوم مالیاتي معافیت شتون ولري. د [۲۰۲۲ کال لپاره 1040-NR فورم لاربښود]() وګورئ. IRS یوه ځانګړې [ابزار]() جوړ کړی چې له وګړو سره د 1040-NR په ډکولو او ټاکلو کې مرسته کوي.

**5. آیا د مالیاتو داوطلب مرسته کوونکي یا VITA کولای شي د بشردوستانه ویزو لرونکي افغانانو سره د مالیاتو د ترتیب په برخه کې مرسته وکړي، او آیا نوموړي افغانان به د مالیاتو د ترتیب لپاره د سوداګریزو خدماتو وړاندې کوونکو ته ورځي ( په ځانګړي ډول هغه وخت چې دوی د باور وړ ملګري او نور نه لري تر څو له دوی سره د مالیاتي راپور جوړولو په برخه کې مرسته وکړي)؟**

د VITA پروګرام هغه وګړو ته د مالیاتي راپورونو د ترتیب په برخه کې وړیا مرسته کوي کوم چې له ټیټ نه تر مینځنی کچې عاید ولري، معیوب وي، او هغوی چې د انګلیسي ژبې محدوده پوهه لري او د خپلو مالیاتي اظهارنامو د ترتیب په برخه کې مرستې ته اړتیا لري. [irs.gov/VITA]() ته لاړ شئ، د IRS2Go وړیا اپلیکیشن ډاونلوډ کړئ، یا هم د مالیاتي راپورونو د تهیه کولو اړوند معلوماتو [لپاره]() 1-800-906-9887 شمېرې ته زنګ ووهئ. یاد لرئ چې، د VITA ډېری وړیا سایټونه دا مهال د غیر میشت وګړو او یا د دوه ګوني حالت لرونکو مالیه کوونکو مالیاتي راپورونه نشي ترتیب کولی.

د بشردوستانه ویزې لرونکی افغان کولای شي د خپلو مالیاتو د راپور د ترتیب لپاره یو مسلکي شخص ته ولاړ شي او یا اړوند سافټویر ډاونلوډ او پخپله خپل مالیاتي راپور جوړ کړي. دوی باید خپل د ۲۰۲۲ کال مالیاتي راپور له دوه برخو سره ولیږي: د متحده ایالاتو اړوند اظهارنامه (1040) او د غیرمیشت بهرنیو وګړو اړوند مالیاتي اظهارنامه (1040-NR). سربیره پر دې، خلک کولای شي د سیمه ایزو کالجونو او پوهنتونونو سره په اړیکه کې شي کوم چې بهرني (F-1, J-1, M-1) زده کوونکي لري. دا کالجونه او پوهنتونونه ممکن د مالیاتو په برخه کې د مرستې وړیا مرکزونه ولري چې د زده کوونکو په وسیله به بهرنیو اکاډیمکو وګړو ته مالیاتي راپورونه ترتیب کوي او د 1040-NR فورمونو په ډکولو او ترتیب کې به تخصص ولري او دوی ممکن وغواړي د بشردوستانه ویزې لرونکي افغانانو د مجموعي لپاره هم نوموړي وړیا خدمتونه وړاندې کړي. د IRS ، 4011 ګڼه خپرونه وګورئ، [VITA/TCE Foreign Student and Scholar Resource Guide .]() سربیره پر دې، ځیني حقوقي ښوونځي د مالیاتي خدمتونو وړیا او یا د کم لګښت مرکزونه لري چې د مالیاتو د راپورونو د تهیې په برخه کې مرسته کوي. ځیني دغه مرستې ممکن یوازې د یو کالج یا پوهنتون غړو ته ارایه شي.

**6. آيا د قانوني حيثيت لرونکی يو مسئول بالغ وګړی د يو کوچنی چې هغه يې مرسته يا ساتنه کوي، که څه هم نوموړی کوچنی يې خپل بيولوژيکي اولاد نه وي د خپلولو ادعا کولی شي؟ که هو، نو آيا د کډوالو د ميشت کولو اداره اړتيا لري چې د دې چارې اړوند د مسئوليت او د ادعا شويو اړيکو د تاييد لپاره يو ځانګړی خط برابر کړي؟**

IRS په دې برخه کې يو ابزار تيار کړی چې پکې د وګړو تر مينځ د تړاو شرايط مشخص کړي.

**7. د ۲۰۲۱ کال د ماليات‌و د تصفيه کولو آخري نيټه يا ميعاد څه دی؟**

که IRS يې بدل نه کړي ( لکه تېر کال يې چې کړی و) سه شنبه د اپريل ۱۸ مه د ۲۰۲۲ کال د مالياتو د راپور ورکول آخري نيټه ده. که يو څوک د خپلو مالياتو د تاديې لپاره ډېر وخت ته اړتيا ولري نو هغوی تل په دې برخه کې د ميعاد له پوره کيدو وړاندې د تمديد غوښتنه کولای شي.

که يو افغان د نوموړي ميعاد د تمديد اړتيا ولري، يا که چېرته هغه د لومړي کال د انتخاب پر شرايطو برابر وي او غواړي دا آپشن وټاکي، نو هغوی په اسانۍ سره د دغه فورم د کارولو له لارې د تمديد غوښتنه کولای شي. وګړي بايد لاربښووني تعقيب کړي او د تمديد غوښتني له آخري نيټې وړاندې يعني د ۲۰۲۳ کال د اپريل تر ۱۸ وړاندې وليږي. دا په وړيا توګه دغه ويب سايټ ته په تللو ليږل کيږي. که غوښتنه چېرته د عام پوسټ له لارې ليږل کيږي نو د اپريل د ۱۸ مې له ميعاد يوه اونی وړاندې بايد وليږل شي. که د نوموړي تمديد غوښتنه وشوه، "ماليه ورکوونکی بايد په تمديد شوې موده کې د مالياتو هغه اندازه چې د هغوی لپاره متوقع وي کوم چې په ۲۰۲۲ کال کې د دوی مالياتي مکلفيت وي او هغوی د ټول کال لپاره د غيرميشت وګړي په توګه سنجولی وي. هغوی د مالياتو د سنجولو لپاره 1040-NR فورم کارولای شي. ماليات مو په 4868 فورمه کې ثبت کړئ. که چېرته هغوی خپل اړونده ماليات نه تاديه کوي نو هغوی به ټاکلي تاريخ د هر ډول مالياتو د نه تادې له امله اضافه ګټه تاديه کوي او همدارنګه هغوی به په دې برخه کې د تادياتو د ځنډولو له امله اړوند مالياتي جرايم تاديه کوي." د IRS 519 مه ګڼه خپرونه، 8مه صفحه

**8. آيا بايد د کرونا تشويقي تاديات د هغه کال د مالياتو وړ عايد په توګه حساب شي په کوم کې چې نوموړي تشويقي تاديات تر لاسه شوي؟ که د کرونا تشويقي تادياتو غوښتنه شوي وي خو عملاً نه وي تر لاسه شوي، آيا ممکنه ده چې دا تاديات تر لاسه شي؟**

د IRS ی لارښود (https://www.irs.gov/newsroom/what-people-really-want-to-know-about-economic-impact-payments)، له مخې د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ کال د کرونا پر تشويقي تادياتو ماليه نشته. په عوض يې دا تاديات د عمومي هوساينې او د بحران د کمولو اړوند تاديات ګڼل کيږي. ځکه خو نوموړي تاديات د اړونده کال په ناخالصو عوايدو کې نه حسابيږي په کوم کې چې نوموړي تاديات تر لاسه شوي وي.

که چيرته تشويقي تاديات منل شوي خو تر لاسه شوي نه وي بيا د Publication 519 له مخې، يو ماليه ورکوونکی کولای شي د کريډيټ د تخفيف غوښتنه وکړي. دا کريډيټ يا پور له ۲۰۲۱ کال وروسته له مينځه تللی. مګر، يو افغان کډوال چې په ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ کال کې يې د ميشت وګړي او يا تبعي شرايط پوره کړي وي، کولای شي د دواړو کلونو لپاره د مالياتو راپور جمع کړي. دا ميعاد د ۲۰۲۰ کال لپاره ۲۴ د اپريل ۲۰۲۴ او د ۲۰۲۱ کال لپاره ۱۸ اپريل ۲۰۲۵ دی.

**9. هغه افغان چې د ۲۰۲۲ کال په دوهمه نیمايي رارسیدلی وي اړ دی چې خپل مالیاتي راپور د غیر میشت وګړي په توګه جمع کړي؟ او یا ممکنه ده چې د امریکا د تبعې په توګه ورسره برخورد وشي؟ د سرچنې په توګه، نوموړې پوښتنه د هغو کډوالو اړوند ده چې د ۲۰۲۲ کال په دوهمه نیمايي کې د متحدو پناه غوښتونکو د عملیاتي ټیم له لورې متحده ایالاتو ته لیږدول شوي.**

یو افغان چې د ۲۰۲۲ کال په دوهمه نیمايي کې متحدا ایالاتو ته راغلی وي او دلته یې ۱۸۳ ورځې نه وي تېرې کړي په عمومي توګه باید خپل مالیات د غیر میشت وګړي په توګه راپور کړي (NRA). لکه مخکې چې یادونه وشوه، بیا هم که چېرته نوموړی وګړی د لومړي کال د انتخاب له آپشن کار اخلي چې مخکې ترې یادونه شوې، نو بیا کولای شي د د متحده ایالاتو د میشت وګړي په توګه د خپلو مالیاتو راپور ورکړي.

**10. که یو افغان نارینه چې ښځه یې لا په افغانستان کې وي، آیا هغه باید " مجرد " وتاکي، " واده کړی چې مشترکاً د مالیاتو راپور ورکوي " ، یا هم " واده کړی چې بېل راپور ورکوي " ؟ که هغه له " واده کړیو " څخه یو آپشن ټاکي، آیا داسې څه ځانګړې لارې شته چې له مخې یې هغه په استثنایي حالاتو کې راتلونکو پوښتنو ته ځواب ورکړي؟**

که تاسو د یوغیرمیشت وګړي په توګه د NR-1040 فورم ډکوئ او ښځه یا مېړه مو لا هم په افغانستان کې وي، نو تاسو باید په عمومي ډول د واده کړي په توګه خپل مالیات بېل یا په انفرادي توګه راپور کړئ (MFS).

په عمومي ډول، هغه میشت وګړي چې د متحده ایالاتو له اتباعو سره یې ودونه کړي کیدای شي د متحده ایالاتو د میشتو وګړو په توګه ومنل شي او خپل مالیات په مشترک ډول راپور کړي. د مالیاتو د مشترکې اظهارنامې لیږل ممکن د مالیاتو کچه یا نرخ را کم کړي، په افغانستان کې د یو وګړي د ښځې یا مېړه عاید به هم عموماً د مالیاتو په مشترک راپور کې ځای پر ځای کیږي. په متبادله توګه، د کورنۍ د مشر یا سرپرست په توګه د مالیاتو د راپور کولو ټاکنه هم شته په هغه صورت کې چې د کورنۍ د ځانګړو غړو له نیمایي څخه زیات لګښتونه مو تادیه کړې وي. د نورو معلوماتو لپاره .[Nonresident Alien Spouse] ته مراجعه وکړئ.

**11. آیا د هغه میشت افغان لپاره چې په ده پورې تړلې د کورنۍ غړي یې د متحده ایالاتو څخه بیرون اوسیږي، ممکنه ده چې د کورنۍ نوموړي غړي د متحده ایالاتو د مالیاتو په راپور کې په ځان پسې ولیکي، که هو نو څه ورته اړین دي؟**

په عمومي توګه، ته نشې کولای چې یو څوک پر ځان پورې تړلی وګڼې تر څو چې هغه ستاسو قانوني اولاد یا قانوني خپلوان نه وي. په تاسو پورې اړوند یو کس باید د متحده ایالاتو اوسیدونکی وي، د نوموړي هیواد تابعیت ولري، د متحده ایالاتو میشت بهرنی وګړی وي، د هغه کال په یوه برخه کې چې ستاسو مالیاتي کال پکې پیل کیږي د کاناډا یا مکسیکو اوسیدونکی وي.

تاسو باید په خپل مالیاتي راپور کې د خپلې کورنۍ د هر غړي Social Security Number (SSN) شامل کړئ.

د دې لپاره چې د مالیاتو د تادیه کوونکو سره په هغوی پورې د اړوند کورنۍ د غړو په ټاکلو کې مرسته وکړي، IRS دغه ابزار جوړ کړی. .Whom May I Claim as a Dependent

**12**. که یو میشت شوي افغان کډوال د بهرني میشت وګړي د قانوني حیثیت له لاس ته راوړلو پرته تشویقوونکې تادیات ومنل نو آیا دا دوکه او فراډ شمېرل کیږي؟ که هو نو دا چاره څنګه جبران کیږي ( د بیلګې په ډول، آیا بیرته نوموړي تادیات ستانه کړي)؟ که نه، آیا د تادیې لپاره به **1099** فورمه ورکړل شي او یا اړ دی چې د نوموړې تادیه شوي مبلغ مالیات ورکړي؟ آیا **IRS** د نوموړي فنډ د بیرته راګرځولو غوښتنه کوي او په څومره وخت کې باید هغوی دا چار تر سره کړي؟

دا ممکنه ده چې یو کډوال شوي افغان په غلطۍ سره تشویقي تادیات ترلاسه کړې وي. IRS په دې برخه کې څه جریمې نه دي وضع کړي مګر هغوی په چټکۍ سره د هغه تشویقي مبلغ د بیرته ورګرځولو غوښتنه کوي چې په غلطۍ سره غیر مستحق کس ته ورکول شوې وي. که تاسو په غلطۍ سره هغه تشویقي تادیات ترلاسه کړې وي چې مستحق یې نه یاست نو IRS یې په لاندې توګه د بیرته ورکولو سپارښتنه کوي:
که تادیات د کاغذي چیک په وسیله وي:

1. د چیک پر شا د تایید په برخه کې "Void" ولیکئ.
2. باطل شوی چیک زر تر زره د IRS مناسب موقعیت ته ولیږئ.
3. پر چیک سنجاق مه وهئ، مه یې بایندر کوئ او د کاغذ کلیپ ورپورې مه نښلوئ.
4. د چیک د مسترد کیدو یوه لنډه توضیح ورسره ضمیمه کړئ.

<u>که تادیات کاغذي چیک وي او تاسو یې پیسې نغدې کړې وي، یا تادیات مستقیم وي:</u>

1. سم له لاسه د IRS یو له لاندې موقعیتونو شخصي چیک، د پیسو د تادیې آمر او نور ولیږئ.
2. پر چیک یا د پیسو د تادیې پر آمر یا آرډر ولیکئ چې د متحده ایالاتو خزانې ته دې تادیه شي، همدارنګه 2020EIP، د چیک د ترلاسه کوونکي د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر( د ټولنیزتامین شمېره، د مالیه ورکوونکي انفرادي تشخیصیه شمېره) ولیکئ.
3. د تشویقي تادیاتو د بېرته ورکولو لنډ دلیل ولیکئ.

<u>که تادیات ډیبیټ کارډ ته لیږل شوي وي:</u>

که تاسو خپل تشویقي تادیات د ډیبیټ کارډ په بڼه تر لاسه کړئ او غواړئ نوموړې پیسې بیرته آی آر ایس ته ولیږئ او د بیرته تادیې لاسوند نه لرئ، نو نوموړی کارډ بېرته د یوې لنډې تشریح سره چې تاسو نوموړي تادیات نه غواړئ او همدارنګه نه غواړئ چې دا تادیات دې لاندې ادرس بیا ځل تر سره شي:

Money Network Cardholder Services
2900 Westside Parkway
Alpharetta, GA 30004

**13. د مالي مرستو د تادیاتو مالیات څه ډول تنظیمیږي ( د اړونده ټولنو او د کډوالو د میشت کولو د دفتر په ګډون) یا هم نور تادیات چې یو نوی میشت افغان یې ترلاسه کوي تر څو د کرایې او د خپل ژوند د نورو لګښتونو په ورکړه کې ورسره مرسته وکړي ( آیا دا ډول تادیات د مالیې وړ عاید شمېرل کیږي)؟ آیا دا هغه وخت اغېز لري کله چې نوموړي تادیات په مستقیم ډول د کور یا جایداد خاوند او یا د خدمت بل کوم وړاندې کوونکي ته ورکړل شي؟**

د کرونا د تشویقي تادیاتو په څېر، د مالي مرستو تادیات باید د هوساینې او رفاه او د اړتیا پر بنسټ تادیاتو په توګه ډلبندي شي او مالیات یې نه ورکول کیږي. که نوموړې تادیات په مستقیم ډول د کور څښتن او یا کوم بل د خدماتو وړاندې کوونکي ته تر سره شوي وي هم عیناً برخورد ورسره کیږي.